مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

شهسوار سنګروال ۲۰۱۸/۰۳/۲۳

نجیب الله د کودتا قرباني شو که د خپلو تېروتنو؟

ځلورمه برخه

د نجیب الله د ماتې لاملونه او کودتاوې:

نجیب الله په داسې مهال واک ته ورسېد چې نړۍ یو قطبي خوا ته روانه وه، ګورباچف نه یوازې د برژنف تګلاره او کړنلاره غندله بلکې داسې عملي ګامونه یې هم پورته کړل چې امریکا هېواد کلونه کلونه ورته سترګې په لاره و. د سیمې او نړۍ هېوادونه په سرکې پاکستان هم په دې پوهېده ،چې د شوروي ښکېلاک ټولواکمنۍ مخ په ځوړه روانه ده. امریکا او پاکستان نه غوښتل چې نجیب الله په واک کې پاتې شي، دوی هغه د شوروي اتحاد لاسپوڅي ګاڼه او په دې هڅه کې وو چې دوی یو خپل لاسپوڅی واک ته ورسوي.
پاکستان یو کمزوری افغانستان غوښته، له مینځپالو تنظیمونو نه یې بنسټ پاله غوره ګڼل، ولې امریکا کوښښ کاوه چې محمد ظاهر، د افغانستان پخوانی پاچا او یا د هند پلویانو ته د واک زمینه برابره کړي.
I.S.I په سر کې حمید ګل په دې ټینګار کاوه چې افغان روښان اندي او د پاچا پلویان له مخې لرې کړي او د دوی د سیاسي فعالیتونو مخه ډب کړي.
پاکستان خپلو موخو ته د رسېدو لپاره ځان ځکه برلاسی ګاڼه چې د جهاد په موده کې یو شمېر داسې بنسټونه یې رغاولي ول چې هغه د ستیوکول خبره:
«د افغان د جهاد بنسټ اېښودونکی پلار، جنرال اختر... چې د پاکستان د څارګرۍ باني وو... شا ته یې خورا ویړ میراث پرې اېښی و. په ۱۹۷۱ کال په ټول پاکستان کې یوازې «۹۰» مدرسې وې. خو د ۱۹۸۸ کال په دوبي کې هلته «۸۰۰۰» رسمي او ۲۵۰۰۰ نا راجسترې شوې دیني مدرسې وې چې دا ټولې مدرسې د ډیورنډ د کرښې په اوږدو کې وې، او د سعودي عربستان او نورو خلیجو هېوادونو له خوا تمویلېدې.»(۱
د دغو مدرسو شاګردان ټول د جهاد په روحیه روزل شوي ول په ځانګړي ډول د نجیب الله حکومت یې یو کمونستي رژیم باله او د هغه پر ضد یې جهاد روا ګاڼه بېنظیر بوټو په ۱۹۸۹ کال واشنګټن ته سفر وکړ، له ولسمشر جیورج بوش او د امریکا له بهرنیو چارو وزیر جېمز بیکر سره ولیدل.
د پاکستان د صدراعظمې پالیسي هغه مهال په ډاګه شوه چې د دې نږدې، یوه پلوي، د امریکا سفیر ذولفقار علي خان له اندیپیندینټ ورځپاڼې سره په مرکه کې وویل:
له چریکانو څخه هیله نشي کېدی چې له جنرال نجیب او په کابل کې له نورو لوړ رتبه کمونستانو سره خبرې وکړي. جیورج بوش او بېنظیر بوټو، دواړو په دې ټینګار وکړ چې دواړه هېوادونه به دوه اړخیزه کړنلاره پر مخ بوځي.
که څه هم امریکا چې د مجاهدینو له ملاتړو څخه وه لا دمخه یې په ډېر مهم وخت کې پیتر تامس په ۱۹۸۹ کال د اپریل په ۷ نېټه چې د حمل له ۱۸ (۱۳۶۸ کال) نېټې سره برابره وه د سفیر په توګه مجاهدینو ته واستوه. له دې سربېره بیا «سي – آی – اې نورستنګر توغندي د افغانستان د حکومت پر ضد پاکستان ته په واک کې ورکړ، چې کابل حکومت تر ګواښ لاندې ونیول شي. «۱۲۰» ملي متري هاوانونه، غونچه یې بمونه... ۹۱ د ۱۹۸۹ کال لپاره یې شپږ سوه میلونه ډالره هم مرسته وکړه همدغسې سعودي عربستان هم د مرستو ټټر وواهه. چې د هغه هېواد دالر، په ډالرو مقابله وکړي.»(۲
له یوې خوا د نجیب الله پر وړاندې پاکستان، امریکا او د امریکا متحدین وو چې نه یې غوښتل په واک کې پاتې شي او له بلې خوا د کابل د حکومت متحدین په سرکې شوروي اتحاد د تېر په څېر دې ته چمتو نه ول چې له افغانستان سره اقتصادي او پوځي مرسته وکړي.
له دې سربېره د نجیب الله د ماتې بل بنسټیز لامل په ګوند او حکومت کې خپل مینځي سیاسي او پوځي اختلاف وو چې دی یې له سترو ګواښونو سره لاس او ګرېوان کړی وو.
هغه مهال چې د شوروي اتحاد، د استخباراتو مشر ګریچکوف کارمل ته په ټیګار سره وویل چې د ګوند له مقام نه استعفا وکړي او بیا چې په ۱۳۶۵ کال د غوایي په څوارلسمه نېټه پلینوم جوړ شو او نجیب الله یې د ګوند د عمومي

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

منشي په توګه وټاکه. دلته دي چې د کارمل پلويانو په څرګنده توګه د نجيب پر ضد په مظاهرو او غبرګونونو لاس پورې کړ.
په دغه وخت کې چې نجيب الله ډېرې ستونزې لرلې هغه يې له خپلو شوروي سلاکارانو سره شريکولی خو په دوو غوښتنو يې ډېر ټينګار کاوه، لومړی دا چې بايد دوی سره پوځي مرستې وشي. دويم ببرک کارمل چې د ده د پرمختګ مخه نيوله مسکو ته وغواړي.
د الکساندر، مايوروف د څرګندونو له مخې چې په کابل کې شوروي سفير ته به چې په پوځي او سياسي بېړو په غونډوکې ګډون کاوه.»(۳ نو ډېر ځله به يې د امريکا او پاکستان لاسوهنې ورته په ډاګه کولې.
د نجيب الله لومړی وړانديز ومنل شو، شوروي چارواکو د نوامبر په مياشت (۱۹۸۶ کال) کې چې د عقرب له مياشتې سره برابروه وه کارمل يې له انقلابي شورا نه ګوښه کړ او د تداوی په پلمه يې مسکوته واستوو.
د دويم وړانديز په تړاو لکه څرنګه چې شورويان وېشل شوي وو، دا رنګه د واشنګټن چارواکي هم په يوه خوله نه وو.
د بېلګې په توګه د امريکا د بهرنيو چارو وزير مرستيال ارماکوست په ډاګه کړه: «که د زماني جدول له مخې شورويان له افغانستان نه ووځي موږ د ژينو په موافقه ليک عمل کوو.»([۱])
ولې پر سبايي د سپيني مانۍ وياند «مارلين فيتز واتر» وويل:
«د شوروي ځواکونو له وتلو وروسته، بيا موږ په دې غور کې وو چې له مجاهدينو سره مرسته وکړو او کنه؟.»(۳
د ګورباچف يو نامتو سلاکار هم دا خبره په ډاګه کړې ده، کله چې دی له «شولتز» نه په دې تړاو څو واري پوښتي، هغه ورته په ځغرده ځواب نه وايي چې د شوروي ځواکونو له وتلو وروسته له وسلوالو سره مرسته کوي او کنه؟ دا رنګه په مسکو کې شولتز له شوارد نادزه سره هم ګوري ده دا خبره وکړه چې شوروي لوری په موږ تور لګوي چې تاسې له خپلې ژمنې نه سرغړونه کوئ.
په هر حال نجيب الله ته په کور دننه او بهر ګڼې ستونزې په مخ کې وې. خو کومو ستونزو چې له پښو وغورځوه، هغه کونۍ ستونزې وې چې د ده د سيا سي نغرې په خوړلن کې پټې وې.
دغه سياسي نغری د افغانستان د خلک دموکراتيک (وطن ګوند) ګوند وو چې په دغه مهال کې په څو ډلو وېشل شوي وو:
«د ګوند له دويمې کنګرې وروسته د کارمل د پلويانو لخوا د بريالي په مشرۍ پټ تشکيلات را مينځ ته شو. د پرچميانو د ډلې څخه کاوياني او مزدک په پټه له «اسلامي جميعت» سره اړيکې ټينګې کړې. دريمه ډله چې د نجيب پر وړاندې فعاله وه هغه د کشمنه په مشرۍ فاسد بيوکراتان ول او دا هغه مهاله وه چې نوموړی د حکومت په دويمه دوره کې لرې شوي وه.
څلورمه ډله چې په دويمه کنګره کې ګډون نه درلود او د شهنواز تنې د کودتا په نوم زندان کې ول... دوی هم په نجيب الله باندې اعتراض کاوه.»(۵
د څلور واړو ډلو په سر کې درې لومړی ډلې په دې اند وې چې لومړی کارمل بېرته هېواد ته وغواړي او نستوړي د مارانو په توګه يې نجيب دې ته اړ کړ چې په سياسي بېرو کې د دغه وړانديز پخلی وکړي چې د ګوند ډېری غړي غواړي چې ببرک کارمل بېرته هېواد ته را ستون شي.
له دې سربېره سياسي شکاکينو د کشتمند په مشرۍ پرېکړه وکړه چې په نجيب باندې يوځل بيا خلقيان بې باوره کړي نو له ده سره د روغې جوړې په نوم کشتمند، بريالی وکيل، کاوياني او مزدک په ګډه نجيب الله د اناهيتا راتب زاد کورته بوته او بې ا کارمل اناهيتا ته تيلفون وکړ او هغې هم د نجيب د راتلو ډاډ ورکړ او د دوی تر مينځ اړيکه ټينګه شوه.
نه يوازې خلقيانو بلکې يو شمېر پرچميانو هم د کارمل بېرته راتګ وغنده او نجيب الله ته يې وويل: نه يوازې د کارمل بېرته راتګ ستونزې زياتوي، بلکې د کودتا د کولو شونتيا هم ترسترګو کيږي.
عظيمي چې د کودتا چيانو «مغز متفکر» وو د نجيب الله او خلقيانو په تړاو کاږلي دي.
«نجيب الله د خپلې مبارزې په اوږدو کې له خلقيانو سره ښې اړيکې نه لرلې او له هغو سره يې له تصب ډک چلند کاوه، ولې کله چې د دولت رئيس شو له هغوی سره جوړ جاړي ته ورسېد، خو له کارمليانو سره يې د يوه نه پخلا کېدونکې دښمن په څېر چلن کاوه...»(٦
د عظيمي دغه څرګندوني حقيقت نه لري، دا ځکه چې نجيب الله تر دغه دمه خپل «دښمن پرچمي» له خپل دوست خلقي سره نه پرتله کوه.
عظيمي لکه د خپل نيکه په څېر (محمد عظيم برګټ) دواړو غړو ته څرېده، هم يې ځان د نجيب دوست ګاڼه او هم يې د شا لخوا پر هغه برید کاوه.
برګټ عظيمو چې په «حربي فابريکه» کې کار کاوه، له يوې خوا مشروطه غوښتونکو سره، سر خوځوه او له بلې خوا يې امير حبيب الله خان ته جاسوسي کوله چې له بابته يې دېر مشروطه غوښتونکي په دار ځړول کېدل او ده به انعامونه ترلاسه کول.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

له یوې خوا د کارمل ډلې له نجیب الله سره د سیاسي پخلاینې خبرې کولې، ولې له بلې خوا یې خپلو ملګرو ته ډاډ ورکوه چې اوس شورویانو ته دا څرګنده شوه چې د پرچم ډلې رښتنی رهبر ببرک کارمل دی.
همدغې ډلې د خلقیانو له پخوانی رهبرۍ سره (دستګیر پنجشېری، زیری) هم اړیکې ټینګې کړې چې تاسو د ګوند بنسټ ګر استی، بیا یې په ګډه له تنې سره اړیکې ونیولې چې کودتا ته لار پرانیزي.

د تنې د کودتا په تړاو نوې څرګونه او نوې موندنې:
شوروي اتحاد په ۱۹۸۸ کال داسې هڅې چټکې کړې چې دتنظیمونو له مشرانو سره لومړی لاس خبرې پخپله وکړي او د یوه نوې حکومت جوړېدو ته لاره پرانیزي.
په کابل کې د شوروي د نوې سفیر «ورنتسف» له هلوځلو دا ښکارېده چې د مجاهدینو له مشرانو سره نېغ په نېغه وګوري.
ولې دافغانستان جمهور رئیس نجیب الله د دې لپاره چې شوروي اتحاد او نړیوالو ته وښیي چې د ژینو له موافقه لیک نه وروسته دی دې ته ژمن دی چې یو ناپېیلی حکومت را مینځته کړي. نو په همدې بنسټ یې حسن شرق د هېواد د صدراعظم په توګه وټاکه (د مې میاشت ۱۹۸۸ کال).
شوروي ته د شرق ټاکنه دېره د پام وړ ځکه نه وه چې کې جې بې نومړی له پخوا نه پېژنده او دی یې د خلک له ګوند سره په تړاو ناپېیلی نه ګاڼه.
د الکساندر لیاخفسکي په اند: «شوروي مشرانو ته دا څرګنده شوې وه چې د افغانستان د خلک دموکراتیک ګوند نوره سیاسي اینده نه لري.»(۱
د همدې بنسټ له مخې شوروي چارواکو هڅه کوله چې د کابل د حکومت او د تنظیمي مشرانو تر مینځ خبرو اترو کوربه شي.
هارئیسون په دې اړه چې شوروي چارواکو د کومې اندېښنې له مخې دا هڅې کولې، داسې انګېري:
«په پرلپسې ډله ییزو رسانیو کې دا خبره کېده چې په دې نږدې وخت نجیب الله ګوښه کېږي... شوروي پرېکړه کړې وه چې هغه یوې خوا ته پرېږدي، داسې ګونګسې هم وې چې د ګوند خپل مینځي کړکېچ له مخې ښایي داسې یوڅه پېښ شي.»(۲
د شهنواز تنې د کودتا په تړاو هم داسې اوازې او انګازې له یوې میاشتې نه په ډېره موده کې تر غوږو کېدې، ان د جلال اباد له جګړې نه د مخه دا غوږ وهنې وې چې د دفاع وزیر غواړي د نجیب الله پر وړاندې کودتا وکړي.
د شوروي د سرو لښکرو له برید نه را په دېخوا داسې انګېرنې وې چې یوشمېر شوروي سلاکاران د کارمل او په ټوله کې د پرچمیانو ملاتړي دي، دا ځکه چې د دوی په ملاتړ کارمل واک ته ورسېد. ولې داسې ګونګوسې هم وې چې شورویانو اوس دا درک کړې ده چې دوی وغول شول چې ګني حفیظ الله امین د سي آی اې جاسوس دی.
پرچمیانو او خلقیانو هم خپل سیاست مسکو پورې تړلی ګاڼه، کله به چې د هغوی په رهبرۍ کې بدلون راغی، نو هرې ډلې به د ځان خوا ته را کاږه چې ګني دی د خلقیانو ملاتړی دی، نورو به بیا داسې ګړنجوله چې «ملګری کارمل چې ژوندی وي هېڅ شوروي رهبر د پرچم دارانو خلاف نشي کېدی... د نجیب الله پوځي سلاکار پروفیسور محمد قارییوف (ګارییوف) هم د دې خبرې پخلی کړی دی چې د نجیب الله دریځ د پرچمیانو د نورو مشرانو په شمول د خلقیانو د یو شمېر مشرانو پر وړاندې دومره د خواشینۍ وړ وه چې دواړو لورو دولتي کارونه پرې ایښي ول او په خپلو شخصي ناندریو کې ښکېل وو.
«ما په وار وار نجیب الله جنرال رفیع، سلطاني علي کشتمند، د بهرنیو چارو وزیر وکیل، شهنواز تنې د مرکزي کمېټې غړي کاروال او نور سیاسي او پوځي مشرانو سره ولیدل چې دوی پخپلو کې پخلا کړم.
جمهور رئیس نجیب الله په دې ټینګار کاوه باید دغه کړکېچ ته د پای ټکی کېښودل شي. ده په ملي امنیت ډېره ډډه لګوله، ما ورته سلا ورکړه چې خلقیان هم باید په ملي روغه جوړه کې ور ګډ کړي. په ډېرو برخو کې د دفاع وزیر «حق په جانب» وو. ځکه چې د پوځي کارپوهانو په ټاکلو کې د هغه وړاندیزونو ته لږ پام کېده.
نجیب الله د جنرال باقي، جنرال عبدالحق علومي په غوښتنو ډېر څرخېده... ان رئیس جمهور یو ګام وړاندې لاړ، غوښته یې تنی د زده کړو لپاره شوروي ته واستوي. دی پدې هم پوهېده چې شهنواز تنې شوروي ته نه ځي.»(۳
دواړه لوري دې ته ژمن نه وو چې د هېواد سیا سي او پوځي ستونزو ته پام واړوي. یوازې د شخصي ګټو او ځان پالنې په فکر کې وو. چې څرنګه د یو بل په وړاندې توطیه وکړي. د شوروي ځواکونو له وتلو وروسته بیا هم ددوی سلا کارانود افغانستان په پوځ کې د ۹۰۵ تنو په شاوخوا کې پوځي کارپوهانو کار کاوه چې یوازې د کابل په ګارنیزیون ۳۲۰ تنه پوځي سلاکاران په دنده بوخت وو. له دې سربېره له مسکو نه به هم لوړ رتبه پوځیان وخت ناوخته کابل ته راتلل.
د مې په ۳ نېټې (۱۹۸۹ کال) جنرال وارینیکف د افغانستان د حالاتو د لیدلو لپاره کابل ته راغی او له یو شمېر چارواکو سره یې ولیدل.
الکساندر خفسکي د وارینیکف په تړاو د هغه له خولې کښلي دي چې:

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

«ما له تنې، یعقوبي، وطنجار (چې دغه وخت د ګلاب زوی پر ځای ټاکل شوی وه)، د جمهوررئیس له مرستیال رفیع، او همدغه راز له نجیب الله سره ولیدل.
تنې ډېر خوشاله وه او د زړه له کومې یې کا رکاوه. ولې یعقوبي بیخي بل ډول وو. خو کله چې مې له نجیب سره ولیدل دی هم د تېر په څېر نه وه، د ما پر وړاندې چې پخوا به مو تل ور سره لیدل بېګانه، خود خوا او له غرور نه ډک چلن وکړ... دلې د څلورو ورځو لپاره پاتې شوم. نوموړی له هغه ځایه کندهار ته لاړ او بیا بېرته مسکو ته را ستون شو. دا د وارینیکف وروستی سفر وه.»(۴)
یوازې دا خبره هم نه وه، شوروي مشرانو غوښتل له نړۍ او د افغانستان په ګاونډ کې له ایران سره ښې اړیکې ولري.
کنه دوی په دې پوهېدلي وه چې په افغانستان کې یوڅه پېښېدونکي دي.
د ایران جمهور رئیس اکبر هاشمي رفسنجاني په ۱۹۸۹ کال د جولای په میاشت کې مسکو ته سفر وکړ او د شوروي له چارواکو سره خبرې اترې وکړې. دواړه غاړې د افغانستان د سیاسي حل غوښتونکي شول.
بیا ئې د بهرنیو چارو وزیر ولایتي په همدې کال د جولای په ۲۵ نېټې (۱۳۶۸ هـ د زمري ۶ نېټه) پاکستان ته واستوو چې د اسلام آباد له چارواکو سره وغږېږي.
په پېښور کې مېشتو تنظیمي مشرانو پخپلو څرګندونو کې دا خبرې کولې چې ایران غواړي شیعه تنظیمونه په واک کې شریک کړي.
د مسکو چارواکو ولیدل له یوې خوا امریکا او پاکستان دې ته ژمن نه دي چې په ایران کې مېشتو تنظیمونو ته په واک کې غوښنه برخه ورکړي، او له بلې خوا د ملي روغې جوړې تګلاره هم نه مني، نو ځکه خو شوروي سلاکارانو د نجیب الله هغه لیک ته مثبت ځواب ووایه چې د شوروي مشر ګورباچف (۱۹۸۹ کال په پای) په نوم یې استولی و.
د ډسامبر په ۱۱ نېټه ګورباچف پرېکړه وکړه چې لونا توغندي، مېک۲۹، 35 – MI ډوله هلیکوپترونه افغانستان ته په واک کې ورکړي.
ولې د نټي کودتا د مسکو چارواکي پخپلو کې وېشلي ول، یو شمېر په دې اند وو چې مجاهدین، نجیب الله د مسکو لاسپوڅی ګڼي نو ځکه خو، د ده د ملي روغې جوړې تګلاره بریالی نه برېښي.
یو شمېر نورو بیه په دې ټینګار کاوه چې د نجیب الله کمزوري د نظام د نسکورېدو د نظام د نسکورېدو په مانا ده. باید له ده څخه ملاتړ وشي.
خو جنرال لیاخوفسکي د نجیب او تنې په تړاو داسې لیکلي دي:
«د افغانستان جمهور رئیس نجیب الله د خپلې ستې د پخولو لپاره د خلقیانو اغېزې کمزوري کړې، ان تر دې چې د شوروي استازو د لارښوونو په پام کې نه نیولو سره یې د ۱۹۹۷ کال په پای کې د هغوی په مشرانو پسې را واخسته...»(۵)
دا چې ولې د شهنواز تنې کودتا ته لاره پرانستل شوه پدې لړ کې درې لاملونه یې ډېر د پام وړ وو:
۱ – یو شمېر خلقیان چې د کارمل د واک په مهال د سیاسي باور څښتن ول له پامه وغورځول شول او د ګلاب زوی په څېرتنې سره هم دا سې اند یښنه پیدا شوه چې ښایي د ده برخلیک هم د ګلابزوی په څېر شي.
۲ – کارمل یان لاپه خاد کې دومره برلاسي وه چې نجیب او تنې تر مینځ بېباوري رامینځته کړي. دوی داسې ګڼله چې تنې د بریالیتوب مخه به هم نیسي او ډاکتر نجیب به هم نه پرېږدي چې د کارمل په پرتله په ګوند کې محبوبیت ترلاسه کړي.
۳ – دریمه ډله هغه کسان ول چې دوی په خاد او دولت کې چارواکي ول او په توکمیزو ناندریو کې دومره ډوب وه چې دوی ته افغانستان مهم نه وه، دوی شپه او ورځ په دې لټه کې ول چې نجیب او تنې په یوه او بل ډول کمزوري کړي.
«نجیب الله او تنې تر مینځ ښایي له پخوا نه د خلقي او پرچمي پنوم بې باوري وه. خو دومره هم نه چې دواړه لوري یو د بل پر وړاندې ودرېږي، ځکه هم دغه تنې او ګلاب زوی وو چې د کارمل پر وړاندې یې د نجیب ملاتړ وکړ، چې کشتمند دغه ملاتړ ته «ملي ګرانه» ښه ورکوي... لکه څرنګه چې د نجیب او ګلاب زوی تر مینځ بېباوري زیاته کړه، دا رنګه کارمل یانو په سر کې جنرال عظیمي، جنرال دلاور او نورو هم نجیب او تنې غوښه او چاړه کړل.»(۶)
له ګڼشمېر کورنیو ستونزو سربېره، په بهرنیو ستونزو کې هم یوه ستره ستونزه د مسکو د چارواکو بېباکي وه، لکه څرنګه چې د سرو لښکرو په برید سره افغانستان د نورو هېوادونو لپاره د ګوزار نښه شو، دا رنګه یې په وتلو کې هم په ورته عمل لاس پورې کړ.
پروفیسور کاربیوف ته چې دا څرګنده شوه، نور دا حالات دې کچې ته رسېدلي دي چې د کابو کولو نه دي او ښایي د دواړو غاړو تر مینځ پوځي ټکر را مینځته شي نو بیا یې د پېښو په تړاو د شوروي د دفاع وزیر «دیمتري یازف» ته ټلیفون وکړ، هغه ورته په ځواب کې وویل: «زما په اند که زه چېرې هلته وی کولی مې شول چې تنې ته قناعت

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ورکړم، ما ورته وویل، یا خو تا سو کابل ته راشئ او یا تنی مسکوته وغواړئ، پداسې حال کې چې تنې په وار وارغوښتل چې مسکو ته سفر وکړي. نه د شوروي د دفاع وزیر کابل ته راغی او نه یې تنی مسکو ته وغوښت.»(۷
شوروي چارواکي د تېر په څېر نور د افغانستان د پېښو په تړاو سر نه خوړوه. لا هغه مهال چې «سخاروف»په ځغرده دغه خبره کوله چې په افغانستان کې جګړه یوه ګناه او لوړجرم دی، چې له بابته یې یو میلون افغانانو خپل ژوند له لاسه ورکړ.
نو ځکه خو د تنې د رڼا ورځې کودتا چې د ورځې د یوې بجې په شاو خوا کې پیل شوه، شوروي سلاکارانو پخپلو سترګو دا هرڅه لیدل او دا یې هم لیدل چې: «امنیتي کارکوونکو به هره ګړی خلقي چارواکي څارل، نجیب الله هم په ډېرې ځیرکۍ د هغو کړو وړو پر وړاندې تیاری نیوه... ولې سره د هغې هم کودتا یې په نطفه کې شنډه نه کړه... ماته د درک وړ نه وه چې ولې نجیب الله دېته ژمن نه وو چې د سولې له لارې پاڅون غلی کړي؟ ولې په شعوري توګه یې دېته لمن وهله؟»(۸
کله چې خبره دې ټکي ته ورسېده نو د نجیب الله په امر د دولتي امنیت لخوا جنرال ولیشاه د راکټ د لوا قومندان او د مخابرې قومندان جنرال عبدالعلیم وردګ، د دېرشو (۳۰) په شاوخوا کې د پوځ نور مشران ونیول شول.
تنی چې په دې پوه شو نو بیایې له خپلو نږدې سلاکارانو، اصف شور، کبیر کاروانی، جعفر سرتېر، محمدزی نېکمل، شیخ محمد باور او نورو سره خبرې وکړې او د خپلې دفاع لپاره چمتو شول.
د شوروي د سفیر په شمول یو شمېر شوروي سلاکارانو تنې سره ژمنه وکړه چې غلی شي او کوم کسان چې بندیان دي هغه به خوشې کړي. د دفاع وزیر ځان غلی کړ، خو افغان ولسمشر، چې دمخه یې د برید تیاری درلود، دېته ځیر وه چې تنې له پښو وغورځوي له دې سربېره کله چې نجیب الله خبر شو تنې سره صالح محمد زیری، دستګیر پنجشېري، نیاز محمد مومند، جنرال نظر محمد، هاشم ځارنوال، قادر اکا په دارالامان کې لیدلي دي، خپل غبرګون یې چټک کړ هغه وه چې تنې هم د مارچ په ۶ شپږمه (۱۹۹۰ ز کال) تېټه د دې لپاره چې د پاکستان حکومت او په سر کې د اسلامي ګوند مشر حکمتیار ته د منلو وړ وګرځي په یوې ناکامې کودتا لاس پورې کړ.
په سرکې نوموړي ځان بګرام هوایي ډګر ته ورسوه او بیا یې په ارګ، د پښتونستان څلورلارې، میوند واټ میګ جټ بمونه وغورځول او متقابلې ډزې پیل شوې. خو څنګه چې نجیب الله د مخه دېته چمتو وه، د تنې پلویان یې تر سخت برید لاندې ونیول تنی چې شوروي سفیر ډاډه کړی وه چې نجیب الله به په تا برید نه کوي، ولې شوروي غله ته ویلې غلا کوه او کور والا ته ویل څار... تنی چې د کودتا په سر کې په دې پوه شوی وه چې د کودتا بری ناشونی دی نو هغه وه چې دی، نیاز محمد مومند، جنرال حمزه، قادر اکا... د هلیکوپتر په وسیله د جمرود له لارې پېښور ته په ټیټو سترګو وتښتېد او نږدې ملګري یې لکه شور، کاروانی، سرتېر ونیول شو او د خاد له خوا د کلنشکوف په برچو ووژل شول.

د نجیب الله وروستی هڅې:

د ډاکتر نجیب الله د واک په مهال د ده مهمه لاسته راوړنه د ملي روغې جوړې تګلاره وه، ولې دا چې پدې لاره کې دی څومره بریالی وه، د پوښتنې وړ دی؟
نوموړي له خپلو سیالو، تنظیمي جنګیالیو سره روغه جوړه غوښته ولې دې ته یې پام نه وه چې لومړی یې باید له کارملیانو سره او دویم یې د خلقیانو له هغې ډلې سره په سر کې له ګلاب زوی او تنې سره روغه جوړه کړې وی . ده چې کله کشتمند، بریالی، کاویاني، لایق، مزدک، وکیل... خپل نکړل او په خلقیانو کې ګلاب زوی سفیر کړ او تنی یې کودتا ته اړ کړ، هغه وه چې خپلې متې پخپله پرې کړې.
خو دا چې ده غوښتل له تنظیمي مشرانو سره روغه جوړه وکړي د خپلو ګوندي ملګرو په پرتله ورته ګرانه وه. دا ځکه چې: «د افغانستان د سیاست په اړه سي آی اې په دې رضا وه چې د افغانستان سیاسي پېښې ،هغه د پاکستان استخباراتو ته خوشې کړي. حتی که د دې مانا دا هم وي چې په کابل کې خپل لاسپوڅی حکمتیار په څوکۍ کېنوي، نو څه؟»(۹غوره به وه چې ولسمشر لومړی کور دننه یو باثباته مرکزي حکومت بنسټ ایښی وی او بیا یې له پاکستان سره د ملي روغې جوړې خبرې غبرګې کړې وی.
دا په دې مانا چې تنظیمونه په خپل سر د دې جوګه نه ول چې پرته د پاکستان له حکومت نه له افغان چارواکو سره خبرې وکړي دا ځکه همدغه پاکستان وه چې د تنظیمونو په استازیتوب یې د ژینو موافقه لیک یې لاسلیک کړ.
ولې بیا هم په توله کې د ملي روغې جوړې د تګلارې نوښت د پام وړ وه او په دې تړاو له سیاسي لوري سره یوشمېر خبرې اترې ترسره شوې چې څو بېلګې یې دا دي:
۱ – له مجاهدینو، یوشمېر تکنوکراتانو او ان د ظاهر شاه له استازو سره د افغانستان د سولې په تړاو خبرې اترې وشوې. د حکومت لومړنی پلاوی چې په دې کې سلیمان لایق اسلم وطنجار (د مخابراتو وزیر)، نجم الدین کاویاني، د امنیت وزیر فاروق یعقوبي ګډون درلود د یاسر عرفات په مینځګړیتوب د ګلبدین حکمتیار د تنظیم له استازو عبدالقدیر کریاب، غیرت بهیر، همایون جریر سره په بغداد کې د فلسطین د سفیر په کوربه توب خبرې وکړې.
په دغو خبرو کې له یاسر عرفات نه پرته د هند سلاکار ابو خالد، په بغداد کې فلسطیني سفیر اعزام الاحمد ګډون درلود. په امریکا کې د مېشتو کډوالو په «استازیتوب» یو درې کسیز پلاوي (د ضیاء نصري په ګډون) کابل کې له

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

چارواکو سره ولیدل. د حضرت مجددي یوه استازي (ګلاب ننګرهاری) د نجیب الله استازي سلیمان لایق سره په تورخم کي ولیدل. همدارنګه د نجیب د خور مېره وکیل نېک محمد په ۱۹۸۷ کال د حضرت صبغت الله مجددي له استازو سره په پاریس کي ولیدل او د افغانستان د سیاسي حل په اړه خبري وکړي. همایون شاه آصفي او ولي احمد نوري هم د سولې ناکامې هڅې پیل کړې خو کومه پایله یې ترلاسه نکړه، که څه هم له حضرت مجددي، پیر ګیلاني او مولوي محمد نبي سره ولیدل او بیا په پټه کابل ته لاړ او هلته یې له نجیب سره خبري وکړې که څه هم آصفي د ظاهرشاه استازی نه وه، خو د دې پلوی وه چې واک په بشپړه توګه هغو ته ولېږدول شي. نجیب الله دا غوښتل چې ظاهرشاه په یوه اتتلافي حکومت کي غوښنه برخه ولري ولې په دې یې ټینګار کاوه چې د دفاع، کورنیو چارو، او د امنیت وزارتونه باید د وطن ګوند په واک کي وي.
همایون شاه په ۱۹۹۲ کال، لانجیب په واک کي وو چې د مرکزي کمېټې له منشي نجم الدین کاویاني سره په پاریس کي ولیدل، اصفي ورته په ډاګه وویل: تر هغې چې نجیب له واک نه لاس په سر نشي، د سولې خبري ناشونې دي.
کاویاني هم ورته ځواب ورکړ او ورته وې ویل:
«د نجیب لرې کېدل ګوند ته کوم پرابلم او ستونزه نده.»
دا هغه وخت دی چې د کارمل ډلې له احمدشاه مسعود سره د واک په سر خبري کړې وې.
یعقوبي په ۱۹۹۲ کال په ژینو کي د پاکستان د استخباراتو له رئیس حمید ګل سره چې د اسلامي ګوند د دوست په توګه یې ټټر وهلی وه خبري اتري وکړې خو کومه غوڅه پایله یې نه درلوده.
له دېنه یو کال دمخه د ۱۹۹۱ کال په پای کي محمد اسحق توخي د نجیب په استازیتوب د افغانستان له پخواني صدراعظم ډاکتر محمد یوسف، صبغت الله مجددي او سردار عبدالولي سره ولیدل، پدې تړاو شوروي چارواکو هم په روم کي له سردار ولي او محمد ظاهرشاه سره هم لیدنه کتنه پیل کړې وه. خو پخوانی پاچا په دې پوهېده چې د ده په واک سره هم وسلوال تنظیمونه په سرکي اسلامي ګوند، اسلامي جمیعت، اتحاد اسلامي... د پاکستان د حکومت په ګډون په ارامه نه کېني نو ځکه یې زړه دېته نه ښه کاوه چې یوځل بیا د افغانستان پاچا شي.
له دې سربېره پخپله نجیب الله هم د سویس په هېواد کي له پیر سید احمد ګیلاني سره ولیدل چې پاچا دېته وهڅوي د افغانستان په سوله کي خپله ملي او هېوادنۍ دنده ترسره کړي.
دې خبرو په پاکستان کي په I.S.I او بنسټ پالو تنظیمونو اور بل کړ چې ګني د دوی هاندي هڅې په اوبو لاهو شوې.
نجیب الله په کابل کي د احمدشاه مسعود له کاکا سره (ویل کېده)هم ولیدل چې د خپلې اغېزې له مخې مسعود خبرو ته را مات کړي.
د نجیب له ټولو وروستنۍ لیدنه چې په لوړه کچه ترسره شوه هغه په ژینو کي له پیر سید احمد ګیلاني سره وه، که څه هم د پیر له وراره اسحق ګیلاني سره هم په کابل کي ولیدل. د اسحاق ګیلاني د خولې کیسه ده، (ماته د ده د ماما زوی «ارشاد» وکړه) چې ما له نجیب او یعقوبي سره ولیدل او بیا مو په قرغه کي په ټوپک نښه وویشته خو ما ترې میدان یووړ، کله چې په دا سبا راتلم د نجیب په کور کي چې له هغه سره یوځای سبا ناری وکړ. بیا نجیب را ته وویل:
آغاصاحب په بکس کي دې څشی دي؟ ما ورته وویل دا دی کلې واخله وې ګوره.
کله چې هغه بکس خلاص کړ ومې لیده چې یو څه یې په بکس کي را ته کېښودل. هغه مهال چې الوتکه والوته بکس مې خلاص کړ ومې لیدل دېرش (۳۰) زره ډالر پکي ایښي ول. همدا راز مانوکي منګل د ننګرهار په کوټ کي له قاضي وقاد سره ولیدل چې د حکمتیار په وړاندې وهڅوي، نو منګل هم هغه ته په لسګونه زره ډالره ورکړل.
د ملي روغې جوړې دا ټولې هڅې هغه مهال په اوبو لاهو شوې چې د کارمل ډلې له احمدشاه مسعود سره اړیکې ټینګې کړې او د جبل السراج د موافقه لیک له مخې د نجیب الله حکومت را نسکور شو.
۲ – د نجیب الله د وروستیو هلو ځلو په لړ کي د ده یو لومړنی کار دا وه چې حسن شرق د یوه ناپېیلي کس په توګه د هېواد صدراعظم وټاکي.
شرق داسې انګېرله چې دا دې یوځل بیا د محمد داود خان له واک نه وروسته یوه مهم مقام ته ورسېد، نو په ډېرې خوښۍ یې کار ته متې را بډ وهلې. ولې دی په دې نه پوهېده چې په حکومت کي را ولاړې شوې ستونزې د چوکۍ په سر دي. ګوندیانو په سرکي کشتمند دی دېته پرېښنود چې د پام وړ برې ترلاسه کړي. نوموړي پخپله هم په خپل کتاب «کرباس پوش های برهنه پا» کي لیکلي:
« زه په ۱۹۸۸ کال د مې په میاشت کي صدراعظم شوم خو د کابینې نیم وزیران له پخوانۍ کابینې نه را باندې تحمیل شول.»
نجیب یو شمېر چوکۍ اپوزیسیون ته پرېښودې، ان دا چې د دفاع وزرت یې په تشریفاتي بڼه احمدشاه مسعود ته پرېښوده. حسن شرق چې د مخه له کي – جي – بي سره اړیکې لرلې، په دې فکر کي شو چې ګني نجیب د مجاهدینو لپاره د منلو وړ ندی. شوروي ته سفر وکړ چې دی باید دهغه ځای ناستی شي.
کوم وړاندیزونه چې حسن شرق شوروي چارواکو ته کړي ول، د هغه هېواد د بهرنیو چارو وزیر شېوارد نادزي نجیب الله ته مخ کي کېښول.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

د شوروي ځواکونو له وتلو وروسته نجیب الله که له یوې خوا دغه نېټه د هېواد د نجات ورځ اعلان کړه خو له بلې خوا یې په افغانستان کې بېړنۍ حالت هم اعلان کړ. بیا یې د همدې پلمې له مخې شرق لرې کړ او پرځای یې یوځل بیا سلطان علي کشتمند صدراعظم وټاکه.
۳ – نجیب الله د ملي روغې جوړې تر سرلیک لاندې هڅه کوله چې د سیمې هېوادونو او ملګرو ملتو ته په ګوته کړي چې دی خپلو هڅو ته ژمن دی، نو ځکه یې په همدې بنسټ فضل حق خالقیار د صدراعظم په توګه دې ته وګماره چې خپل حکومت جوړ کړي. د کارمل بېرته راتګ او د کشتمند بیا لرې کېدل، نجیب الله ته یو لوی ګواښ پېښ کړ.
فضل حق خالقیار نیم سړی وو. د ده لا هغه ټپونه جوړ شوي نه ول چې په هرات کې د تسلیمانو په یوه پېښه کې زخمي شو.
دی هم لکه حسن شرق غوندې د وطن د ګوند له خوا په سیاسي کلابندۍ کې ایسار وه. دا ځکه چې محمود بریالی د صدارت د لومړي مرستیال په توګه وټاکل شوو نور مرستیالان یې عبدالصمد سلیم، محمد انور ارغندیوال او عبدالقیوم نورزی ول.
د ښوونې او روزنې وزیره عصمتي وردګ وټاکل شوه .
غلام محمی الدین دریځ عدلیه وزیر، داکتر مهر محمد اعجازي د روغتیا، عبدالوکیل د بهرنیو چارو، راز محمد پکتین د کورنیو چارو او محمد اسلم وطنجارد دفاع وزیر، محمد حکیم د مالیې، صالحه فاروق اعتمادي د ټولنیزو چارو وزیر،محمد صدیق سیلاني د اسلامي ښوونو او اوقاف،محي الدین شهباز د کرنې، محمد انور دوست د خفیفه صنایعو او غذایي موادو، فقیر محمد نېکزاد د ساختماني چارو، عبدالصمد صلاح د کانو او صنایع، ودیر ساپی د ملکي هوانوردۍ، دیپلوم انجینر سید محمد نسیم علوي د مخابراتو، میر عبدالغفور رحیم د ابو او برېښنا، احمد بشیر رویګرد اطلاعاتو کلتور، محمد انور شمس د لوړو مسلکي زدکړو، فتح محمد ترین دعودت کوونکو ذکیم شاه د سوداګرۍ چارو، حیات الله عزیزي د کلیو د بیا ودانولو، خلیل الله د ترانسپورت، نور احمد برېڅ مشاور، ډاکتر شاه ولي مشاور، سید احمد پیګیر مشاور، فقیر محمد یعقوبي مشاور، وزیران وټاکل شول. چې په دغه لیک لړ کې لس تنه د وطن د ګوند غړي ول او نور ناګوندیان ول، خو د دولت له مخالفینو څخه نه وو.
۴ – د نجیب الله د واک په مهال یو شمېر داسې ډله ییزې خپرونې او رسانۍ هم مینځ ته راغلې چې د دموکراسۍ پېښې پکې تر سترګو کېدې.
له دې سربېره یو شمېر سیاسي ګوندونه هم د سیاست ډګر ته را ووتل او د دولت لخوا ورته د دولت د څارنې پر بنسټ لاره پرانستل شوه، چې موږ دغه ګوندونه د ساري په توګه یادولی شو:

۱. د افغانستان د خلک دموکراتیک ګوند د «وطن» په نوم.
۲. سازا، د محبوب الله کوشاني په مشرۍ ګوند.
۳. سزا، د حمدالله ګران په رهبرۍ
٤. اسلامي ګوند، د عبدالستار سیرت په ښودنه
٥. د دهقانانو د عدالت ګوند (عبدالحیکم توانا)
٦. د همبستګۍ په نوم ګوند د سرور نورستاني په مشرۍ.
۷. کجا، د عبدالعزیز تره خېل په رهبرۍ.
۸. د انصار الله اتحادیه د سفیر محمد خادم په مشرۍ.
۹. د افغانستان د ملي رستګارۍ ټولنه د پوهاند محمد اصغر په مشرۍ.

یو شمېر داسې خوځښتونه هم ول چې د پرچم ډلې د یو شمېر پخوانیو مشرانو تر سیوري لاندې یې د توکمیزو ناروغیو او ناندریو له لارې فعالیت کاوه. په دغو ډلو ټپلو کې داسې کسان ول چې د دولت پر وړاندې وسلوال بریدونه کول، ولې یو شمېر په پټه د دولت له چارواکو سره په دې تړاو چې امتیازات ترلاسه کړي لاره درلوده، چې موږ د ملي جنبش، وحدت ګوند، اسلامي جمیعت، د محسني تر مشرۍ لاندې د حرکت ګوند، ملي محاز، د ملي نجات جهه، د ازاد بېګ په مشرۍ د شمال ټلواله او نور یادولی شو.
په دولت کې داسې وسلوالې پوځي ډلې هم وې چې د ملېشاوو په نوم او د پوځي ځواک په نوم یې ځانګړی ځواک او واک درلود، لکه د جنرال دوستم په قوماندې ۵۳ فرقه، سید منصور نادري په رهبرۍ ۸۰ فرقه، د حیرتانو «۷۰» مه میکانیزه لېوا، د دهدادی ۱۸ فرقه او نورې وړې وړې ډلې د یادولو وړ دي.
۵ – نجیب الله دغه ټول ګواښونه په سترګو لیدل، خو د کابو کولو بشپړ واک یې نه درلود. دغه ګواښ هغه مهال زیاد شو چې تنې د کودتا هڅه وکړه.
له دې سر بېره د خوست جګړه، په یوې پوځي ادې کې چاودنه په پای کې د خوست نیول (۱۹۹۱ کال) د ارزګان په ولایت کې د (۱۹۹۰) ترینکوټ پېښه، د دولت لخوا د یو شمېر ولایتونو پرېښودل چې په دې سره د هېواد په لویو

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ښارونو کې د واک کلابندي مینځ ته راغله د پوځي ګوابښ سره سره چې له یوې خوا د تنظیمونو وسلوال بریدونه ول او له بلې خوا د افغانستان حکومت خپله وړتیا او پوځي مورال له لاسه ورکړی وه، د ملګرو ملتو استازي بینن سیوان د سولې هڅې چټکې او نجیب الله هم پدې هڅو ډېره ډډه ولګوله.

(نوربیا)

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ